ضمیمه I
مقرره 6-723

## د ویرجینیا د روغتیا څانګه

## د ښوونځی او ورځی لخوا د پاملرنی مرکز

## د واکسینو لږ تر لږه شرائط/اړتیاوی

په عامه یا خصوصي ابتدایه ښوونځی، منځني یا ثانوي ښوونځي، د ماشومانو د پاملرنې په مرکز کی، د کوچنی ماشومانو په ښوونځي کې، د کورنی د ورځي لخوا د پاملرنې په کور یا په پرمختیایي مرکز کې د ګډون کولو لپاره د واکسینو د تجویز شوي ډوزونو شمیر سره سره د کافي اندازه عمر او د تر سره شوي واکسینو مستند اسناد باید وړاندی شي کوم چې لاندی ذکر شوي دی. واکسینونه باید د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکزونو، د ماشومانو د امریکایي اکاډمۍ، او د کورنی ډاکټرانو امریکایي اکاډمۍ لخوا د برابر شوي مهالویش سره سم تطبیق شي او باید په https://www.vdh.virginia.gov/immunization/immunization-manual/acip/ ویب پاڼه کی د مناسبی وقفی او عمر لپاره د ورکړل شوي شرایطو سره په مطابقت تطبیق شي.
**هغه ماشومان چې د اوسني کوردینه شوي مهالویش یا کوردینه شوي وروسته رامنځ ته شوي مهالویش سره سم واکسین شوي وي (د ټولو لږ تر لږه عمر او وقفي ساتلو اړتیاو پوره کولو په شمول) په ښوونځي کې د ګډون کولو لپاره په مناسب ډول واکسین شوي ګڼل کیږي. (د اضافي معلوماتو لپاره "د ښوونځي لخوا د اړینو واکسینو لپاره اضافی لارښوډ" وګورئ.)**

ډیفتریا / Diphtheria، تیتانوس/Tetanus، او پرتوسس/Pertussis (DTaP، DTP/، یا Tdap) لږ تر لږه 4 ډوزه. یو ماشوم باید د پیداښت په څلورمه کلیزه یا تر هغی وروسته د DTaP یا DTP واکسین لږترلږه یو ډوز واخلی. د DT (ډیفتریا، تیتانوس) واکسین د هغو ماشومانو لپاره اخیستل اړین دی چې له طبي لحاظه د پرټوسیس لرونکي واکسین (DTaP یا DTP) څخه معاف دي. اوه کلن یا تر هغی زیات عمر لرونکی ماشومان چې د تیتانوس او ډیفیتیریا واکسین لپاره تر ټولو لږ شرط نه پوره کوي، هغوي لپاره د بالغو Td واکسین اړین دي.
د 2014 کال د جولای له لومړۍ نیټې څخه په عملی کیدو سره، **د Tdap واکسین یو بوسټر ډوز د ټولو ماشومانو لپاره چې شپږم ټولګي ته داخلیږي اړین دی.**

<u>د هیموفیلس انفلوینزا / Haemophilus Influenzae ډول Hib) B) واکسین</u>. دا واکسین یوازې د 60 میاشتو پورې عمر لرونکی ماشومانو لپاره اړین دی. بنسټیزه لړۍ یې دوه یا درې ډوزه لري (تولید کوونکی پورې اړه لري). په هرصورت، د ماشوم اوسنی عمر د اړتیا وړ ډوزونو شمیر اداره کوي، نه د ډوزونو پخوانی شمیر. د 15 او 60 میاشتو تر منځ غیر واکسین شوي ماشومان یوازې د واکسین یو ډوز/خوراک ته اړتیا لري.

<u>هیپاټایټس B یا د تور ژیړی واکسین</u>. د ټولو ماشومانو لپاره د هیپاټایټس B یا د تور ژیړی واکسین بشپړ 3 ډوزه/خوراکه تر سره کول اړین دي. په هرصورت، FDA ***یوازې*** د تنکی ځوانانو لپاره چې د 11 څخه تر 15 کلنی پوری عمر ولري، د 2 ډوزونو مهالویش تصویب کړی او ***یوازې هغه وخت کله چې د Merck برانډ (RECOMBIVAX HB) بالغ فارمولیشن هیپاټیت بې یا تور ژیړی واکسین*** کارول کیږي. که چیرته د دوه ډوزه مهالویش واکسین د 11 څخه تر 15 کلنی پوری تنکی ځوانانو لپاره کارول کیږي، دا باید په واضح ډول د ښوونځي په فورم کې مستند یا ولیکل شي.

د انسانو پاپیلوما ویروس واکسین (HPV) د 2008 کال د اکتوبر میاشتی د 1 نیټی څخه په عملی کیدو سره، د ښځینو لپاره د HPV واکسین د 3 دوزونو بشپړ لړۍ تطبیق کولو ته اړتیا ده. لومړئ ډوز باید د ماشوم 6 ټولګی ته د داخلیدو مخکی تطبیق شي. د روغتیا بورډ لخوا د تصویب شوي تعلیمي موادو بیاکتنې وروسته، د والدینو یا سرپرست په بشپړ اختیار سره، والدین یا سرپرست ممکن د ماشوم لپاره د HPV واکسین د نه تر سره کولو خوښه څرګنده کړي.

<u>د شری (Measles)، ممپس یا ټنډ غومبوری مرض (Mumps) او روبیلا (Rubella) یا (MMR) واکسین</u>. لږ تر لږه دوه د شری، دوه د ممپس یا ټنډ غومبوری مرض، او یو د روبیلا واکسین. (ډیری ماشومان د هر یو واکسین څخه دوه ډوزه/خوراکه ترلاسه کوي ځکه چې واکسین معمولا یو له بله سره یو ځای کیږي چی MMR ورته ویل کیږي). لومړی ډوز باید په 12 میاشتنی کی یا له هغی زیات عمر کی تطبیق شي. د واکسین دویم ډوز باید وړکتون ته د ننوتلو څخه وړاندی تطبیق شي مګر د لومړی او دویم ډوز تر مینځ لږترلږه وقفی وروسته هر وخت تطبیق کیدی شي.

<u>د Pneumococcal / نیوموکوکل (PCV) واکسین</u>. دا واکسین یوازې د 60 میاشتو څخه کم عمر لرونکی ماشومانو لپاره اړین دی. د نیوموکوکل کډ واکسین یو څخه تر څلورو ډوزونو پوری کول اړین دي مګر د لومړي ډوز کولو په وخت کې عمر پوری اړه لري.

<u>د پولیو یا ګوزڼ واکسین.</u> د پولیو یا ګوزڼ واکسین لږ تر لږه 4 ډوزه. یو ډوز یا خوراک باید د زیږیدنی په څلورمه کلیزه یا تر هغی وروسته تطبیق شي. **د اضافي معلوماتو لپاره ضمیمه شوئ لارښود وګورئ.**

<u>د ویروسیلا/Varicella یا (چیچک) واکسین</u>. ټول هغه ماشومان چې د کال 1997 د جنورۍ په 1 نیټه او له هغی وروسته زیږیدلي دي، هغوي به اړ وي چی په 12 میاشتنی کی یا له هغی وروسته د چیچک یا چکن پاکس واکسین یو ډوز واخلی یا تر سره کړي. د 2010 کال د مارچ د 3 نیټی څخه په عملی کیدو سره، د واکسین دوهم ډوز باید وړکتون ته د ننوتلو څخه وړاندی تطبیق شي مګر د لومړی او دویم ډوز تر مینځ د لږترلږه وقفی وروسته هر وخت تطبیق کیدی شي.

*د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د واکسینونو ډیویژن یا څانګی سره په 1.800.568.1929 (یوازی په آیالت کی) یا 804.864.8055 شمیرو سره اړیکه ټینګه کړئ.*